مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۰۳** (از ۱۱ الی ۱۸ دلو ۱۳۹۳ هـ ش)

**این نشریه مجموعهٔ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........................................................ ۲

**گروه "دولت اسلامی" در میدان جنگ خراسان**

- خلافت اسلامی ........................................................ ۳
- خراسان ........................................................ ۴
- آیا طالبان دچار انشعاب خواهند شد؟ ........................................ ۵
- تلاش گروه دولت اسلامی برای نفوذ به افغانستان ................................ ۵
- فرق طالبان و گروه دولت اسلامی ........................................ ٦
- نتیجه ........................................................ ٦

**د افغانستان بهرنی سیاست او د ستراتېژیک پلان اړتیا**

- د بهرني سیاست نیمګړتیاوي ۲۰۰۱-۲۰۱۴ ........................................ ۷
- ستراتېژیک پلان څه ته وایي؟ ........................................ ۹
- بهرنی چارې او ستراتیژیک پلان ........................................ ۱۰
- وړاندیزونه ........................................................ ۱۱

## مقدمه

د اوونۍ تحلیل په دې ګڼه کې، په افغانستان کې د "اسلامي دولت" ډلې د حضور او همدا راز د افغانستان په بهرني سیاست کې د یوه رغند ستراتېژیک پلان د اړتیا په تړاو، د ستراتېژیکو او سیمه ییزو څېړنو مرکز د څېړنیزې څانګې شننې لولئ.

له تېرې څه مودې راهیسې د افغانستان له ځینې سیمو څخه، د "اسلامي دولت" ډلې د جنګیالیو د حضور په اړه راپورونه خپرېږي او داسې اندېښنې یې راټوکولې، چې ترشا یې د افغانستان له پولو هاخوا ټولې سیمې لپاره د یوې سترې دسیسې پلان شته دی. په افغانستان کې د "اسلامي دولت" ډلې د جنګیالیو حضور تر کومه مبالغه او تر کومه حقیقت لري؟ افغانستان ته د دې ډلې راتګ او دلته د فعالیت پیلول به څه پایلې له ځان سره ولري؟

همدا راز څو ورځې وړاندې ولسي جرګې ته د بهرنیو چارو معرفي شوي وزیر له دغې جرګې څخه د باور رایه واخېسته او د هېواد د بهرنیو چارو د وزیر په توګه یې رسماً دنده پیل کړه؛ مګر دا چې افغانستان په تېره څه باندې یوه لسیزه کې د بهرني سیاست په برخه کې له جدي نیمګړتیاوو سره مخ و، د راتلونکې دورې په تړاو هم دا اندېښنې شته دي او له همدې امله د هېواد په بهرنیو چارو کې د بنسټیزو بدلونونو جدي اړتیا لیدل کېږي.

دا چې په تېره څه باندې یوه لسیزه کې د افغانستان بهرنۍ سیاست له کومو نیمګړتیاوو سره مخ و؟ او د دغو نیمګړتیاوو د له منځه وړلو لپاره کومو ګامونو او د بهرنیو چارو لپاره څه ډول ستراتېژیک پلان ته اړتیا ده؟ هغه موضوعات دي، چې د دې اوونۍ په تحلیل کې یې تفصیل لولئ:

# گروه دولت اسلامی در میدان جنگ خراسان




از زمانیکه گروه داعش در سوریه و عراق نام خود را به "دولت اسلامی" تغییر داد، این نگرانی به میان آمد که این گروه اهدافی بلندپروازانه‌تر از محدودۀ عراق و سوریه دارد؛ زیرا داعش مخفف "دولت اسلامی عراق و شام" بود و این نام می‌توانست به این معنی باشد که دامنۀ فعالیت این گروه منحصر به همین دو کشور خواهد بود، اما به زودی این گروه با اعلام برنامۀ جدید، ساحۀ به مراتب وسیع‌تر یعنی سراسر جهان اسلام را به عنوان قلمرو فعالیت و حکمروایی آیندۀ خود مشخص کرد.

در برنامۀ جدید رهبر این گروه، ابوبکر البغدادی خود را به عنوان خلیفۀ مسلمین معرفی نمود و از مسلمانان در سراسر جهان خواست تا به این خلافت اعلام بیعت نمایند. خواست بیعت به این معنی بود که ساحۀ فعالیت این گروه به سراسر جهان اسلام از المغرب تا جزایر میدانائو در فلیپین گسترده خواهد شد.

## خلافت اسلامی:

منطقه‌ای که بعد از جهان عرب و حتی بیشتر از بعضی از کشورهای عرب مورد توجه رهبری این گروه قرار گرفت، خراسان بود. دلیل این توجه را می‌توان در همان تمایل قدیمی به احیای خلافت در میان مسلمانان نیم قارۀ هند جستجو کرد که بعد از سقوط خلافت عثمانی تحریک احیای خلافت را به میان آوردند. به همین دلیل زمانیکه البغدادی اعلام خلافت کرد و از مسلمانان سراسر جهان خواستار رفتن به سرزمین خلافت شد، نخستین مسلمانان غیر عرب که به وی اعلام بیعت کردند از پاکستان و افغانستان بودند. تعداد زیادی از آن‌ها به سوریه رفتند و چند ماه قبل در آن کشور به تأسیس جبهۀ خراسان اقدام نمودند.

از آن ببعد جمعی از جنگجویان از آسیای میانه نیز به آن‌ها پیوستند و اکنون گفته می‌شود که جبههٔ خراسان در سوریه، یکی از جبهات قدرتمند این گروه است و حتی مقامات امریکایی هم از این جبهه به عنوان یک جبههٔ خطرناک نام بردند.

## خراسان:

سرزمین قدیم خراسان در اوایل ظهور اسلام سرزمینی شامل تمام افغانستان و تاجیکستان امروز، بخش‌هایی از ایران، ازبکستان، ترکمنستان و بخشی از مناطق آنسوی دیورند را شامل می‌شد. اکنون گروه دولت اسلامی برای همین ساحهٔ وسیع متشکل از چندین کشور، یک والی و یک معاون والی مقرر کرده اما هنوز به عملیات نظامی دست نزده است.


والقريب لها، نبشر المجاهدين بامتداد الدولة الإسلامية إلى خراسان، فقد استكمل المجاهدون
من جنود الخلافة الشروط، وحققوا المطالب لإعلان ولاية خراسان، فأعلنوا بيعتهم لأمير المؤمنين
حفظه الله الخليفة إبراهيم، وقد قبلها وعين الشيخ الفاضل حافظ سعيد خان حفظه الله واليا
على ولاية خراسان، ونائبا له الشيخ الفاضل عبد الرؤوف خادم أبا طلحة حفظه الله فندعو
جميع الموحدين في خراسان إلى اللحاق بركب الخلافة ونبذ التفرق والتشرذم، فهلموا إلى
دولتكم أيها المجاهدون هلموا إلى خلافتكم فأنتم أصحاب السبق، قاتلتم الإنكليز والروس
والأمريكان، وأمامكم اليوم قتال جديد قتال يفرض التوحيد ويدحر الشرك والتنديد، فهلموا
متواضعين لله يعزكم ويرفعكم الله، هلموا فهذه فرصة للمسلمين، ولم تفتكم بعد فلا تضيعوها
ونهيب بجميع جنود الدولة الإسلامية في خراسان السمع والطاعة للوالي حافظ سعيد خان
ونائبه حفظهما الله، والاستعداد لما سيلاقونه من الأهوال، فستجتمع عليكم الأحزاب وتكثر
ضدكم البنادق والحراب، وأنتم لها بإذن الله، فسلوا سيوفكم وأشرعوا رماحكم واثبتوا ولا تهنوا
ولا تلينوا فإما نصر يعز الله به الإسلام والمسلمين، وإمّا شهادة نلقى بها الله معذورين، وإنا

علامیهٔ تعیین امیر خراسان از سوی گروه دولت اسلامی [1]

جالب اینجاست که در طرح خراسان این گروه، مناطقی تا رود اتک که در نتیجهٔ معاهدهٔ دیورند از افغانستان جدا شده شامل است. بنابراین از چهار ایالت پاکستان، سه ایالت شامل ولایت خراسان نیست و فقط ایالت ناامن خیبر پشتونخواه و مناطق قبایلی بخشی از خراسان به شمار آمده است. در تشکیلات ولایت خراسان، حافظ سعید خان از اورکزی اجنسی به حیث والی و عبدالرؤوف خادم از ولایت هلمند بحیث معاون والی تعیین گردیده اند.

حافظ سعید خان از اعضای سابق طالبان پاکستانی است که همراه با تعدادی دیگر از جمله شاهد الله شاهد از این گروه جدا شدند. معاون ولایت خراسان عبدالرؤوف خادم سابق عضو کمیسیون نظامی طالبان بود. ابومحمد العدنانی سخنگوی گروه دولت اسلامی این تقرر را تائید کرده است.

[1] ببنید، وب سایت رسمی گروه دولت اسلامی: https://akhbardawlatalislam.wordpress.com

## آیا طالبان دچار انشعاب خواهند شد؟

تا آنجا که مسئله به طالبان پاکستانی رابطه می‌گیرد، این گروه از قبل به گروه‌های کوچکتر منشعب گردیده‌اند و امروز زمانیکه از طالبان پاکستانی نام برده می‌شود، بیشتر منظور گروه تحت رهبری ملافضل الله است. بنابراین چنین انشعاب در این گروه غیر منتظره نیست.

اما در مورد طالبان افغان باید گفت که ظهور داعش در منطقهٔ فعالیت این گروه، می‌تواند چالش برانگیز باشد. اما نفوذ عبدالرؤوف خادم در تحریک طالبان ضعیف است و وی به عنوان یک سلفی در میان طالبان افغان از قبل هم زیاد مورد قبول نبود، اما رهبری طالبان برای نشان دادن وسعت نظر خویش که قدرت تحمل قرائت‌های دیگر از مذهب را هم دارد و نیز به منظور جلب اعتماد عرب‌هایی که به طالبان مساعدت مالی می‌کنند، وی را به عضویت کمیتهٔ نظامی برگزید. عبدالرؤوف خادم به دلیل رابطه با جنگجویان عرب "شامل اعضای القاعده و غیر از القاعده" امکان رابطه با گروه دولت اسلامی را به دست آورد و بخصوص به عنوان شخصی با طرز فکر سلفی که در عین حال با طالبان افغان کار کرده است، مورد توجه رهبری گروه دولت اسلامی قرار گرفت.

## تلاش گروه "دولت اسلامی" برای نفوذ به افغانستان:

در این اواخر شایعاتی مبنی بر حضور افرادی از گروه "دولت اسلامی" در بعضی از مناطق افغانستان شنیده می‌شود. از قول مقامات دولتی در ولایات هلمند، فراه، غزنی، زابل و حتی ولایت کندز در شمال افغانستان گزارشاتی مبنی بر حضور رو به گسترش گروه دولت اسلامی در این ولایات شنیده می‌شود.

مردم از حضور ناگهانی گروه دولت اسلامی سخن می‌گویند و دلیل شان نیز اینست که این جنگجویان از طالبان فرق دارند و پرچم‌های سیاه حمل می‌نمایند. در بعضی از موارد شاید این گزارشات بدور از واقعیت نباشد؛ اما در مواردی اخباری از این دست، به خصوص که مقامات دولتی آنرا گاهی به صورت مبالغه‌آمیز گزارش می‌دهند، جای تأمل دارد. آیا هدف از پخش چنین اخبار، نگران ساختن کشورهای دیگر به خصوص امریکا از آیندهٔ افغانستان به این منظور نیست، تا در تاریخ خروج نیروهای خود از افغانستان تجدید نظر نماید؟

در مواردی حضور جنگجویان خارجی در بعضی از مناطق رابطه‌ای با گروه "دولت اسلامی" ندارد. به عنوان مثال ولسوالی دای چوپان در ولایت غزنی از سال ۲۰۰۶ تاکنون جایی است که در آن جنگجویان ازبیک وابسته به گروه طاهر یلداش زندگی می‌کنند و این افراد سال‌ها قبل از به میان آمدن گروه دولت اسلامی و به دنبال جنگ با گروهی از طالبان پاکستانی که با دولت پاکستان قرارداد بسته بودند، به این منطقه آمده‌اند.

اگر گروه دولت اسلامی بخواهد در میان چنین گروه‌هایی نفوذ نماید، شاید به مشکل کمتری مواجه گردد، اما نفوذ در میان طالبان، کاری آسان نیست و امکان برخوردهای مسلحانه وجود دارد؛ زیرا طالبان به هیچ گروهی اجازۀ فعالیت مستقل نظامی را در مناطق تحت نفوذ شان نمی‌دهند.

## فرق طالبان و گروه دولت اسلامی:

تفاوت میان این دو گروه در برنامۀ سیاسی آنهاست. طالبان اعلام داشته اند که برنامه‌ای برای خارج از افغانستان ندارند و هدف شان آزادی افغانستان از تسلط امریکا و متحدین آن کشور است. وقتی نیروهای خارجی از افغانستان خارج شوند، دیگر دلیلی برای جنگ در افغانستان هم وجود نخواهد داشت.

اما برنامۀ گروه دولت اسلامی، گسترش دامنۀ نفوذ این گروه، به سراسر جهان اسلام است و خود را متعهد به این هدف می‌داند. پس برای گروه‌های مسلح خارجی که قبلا هم‌پیمان طالبان افغان بودند و هدف شان جنگ در کشورهای خودشان است، پیام گروه دولت اسلامی می‌تواند دارای کشش و جاذبه باشد.

## نتیجه:

در مجموع نتیجه‌ای که از این تحولات می‌توان گرفت، اینست که حتی ضعف طالبان در افغانستان به معنای قدرت گرفتن دولت افغانستان نیست. حتی اگر گروه طالبان تضعیف شود، گروه تندرو تری به میدان می‌آید که دامنۀ جنگ را تا به آن‌سوی مرزهای افغانستان، به خصوص آسیای میانه گسترش خواهد داد. به همین دلیل عبدالکریم خرم رئیس دفتر حامد کرزی رئیس جمهور سابق افغانستان این کار را دسیسۀ امریکا می‌داند و در مقاله‌ای پیشبینی می‌کند که "دامنۀ جنگ به کشورهای همسایۀ افغانستان و مرزهای چین کشانده می‌شود و برای عملی شدن این نقشه ضرورت است تا افغانستان به یک "وزیرستان بزرگ" مبدل گردد.

## د افغانستان بهرنی سیاست او د ستراتېژیک پلان اړتیا



په افغانستان کې د نوي حکومت پر جوړېدو څو میاشتې تېرې شوې او د بهرنیو چارو نوي وزیر هم له ولسي جرګې د باور رایه واخېسته او په رسمي ډول یې کار پیل کړ. که څه هم افغانستان دا مهال په بهرني سیاست کې له ګڼو ستونزو او ننګونو سره مخ دی او په اوسني وخت کې د بل هر وخت په پرتله یوه ستراتېژیک پلان ته ډېره اړتیا لري، خو لاڅرګنده نه ده چې د ملي وحدت حکومت او د بهرنیو چارو نوی وزیر به، په دې اړه څه کارونه وکړای شي.

دا مهال افغانستان یوه داسې ستراتېژیک پلان ته اړتیا لري، چې خپلې ملي ګټې پکې خوندي کړای شي، بهرنی سیاست د ثبات په لور بوځي او خپلې بهرنۍ چارې د غبرګون له سیاست څخه وژغوري. افغانستان په ځانګړي ډول په تېره لسیزه کې په خپل بهرني سیاست کې زیاتې نیمګړتیاوې لرلې او په ګڼو برخو کې له ناکامیو سره مخ و. اوس بیا د بهرني سیاست د اساسي کربنو یا دکتورینو د رامنځ ته کولو اړتیا محسوسېږي.

### د بهرني سیاست نیمګړتیاوې ۲۰۰۱-۲۰۱۴

که په لنډه توګه د تېرې ۱۳ کلنې دورې د خارجي سیاست ناکامۍ په ګوته کړو؛ نو په بهرنیو چارو کې د افغانستان پاموړ ناکامۍ په لاندې ډول وې:

- غبرګونیز سیاست؛
- له ګاونډیانوسره خرابې اړیکې؛

- د ګاونډيو، سيمه ييزو او نړيوالو ځواکونو ترمنځ نامتوازن سياست؛
- د ستراتيژيک پلان نشتوالی؛

دا چې ولې د ډېرې هېوادونو ترمنځ توازن ونه ساتل شو، اصلي لامل يې همدا غبرګونيز سياست او د قضاياوو د حل په اړه په لنډمهالو حل لارو تکيه کول وو.

له چين او روسيې سره مو اړيکې هغه مهال ورغولې، چې کله مو له امريکا سره له ۲۰۰۸ او ۲۰۰۹ کال وروسته اړيکې خرابې شوې؛ دا دواړه هېوادونه د افغانستان د بهرني سياست په ډګر کې په تېره لسيزه کې خورا مهم وو او بايد له لومړي سره ښې اړيکې ورسره جوړې شوې وای. که څه هم روسيې او چين له ۲۰۰۱ کال وروسته له افغانستان سره د ژورو اړيکو د پاللو لېوالتيا درلوده؛ خو کله يې چې افغانستان د امريکا تر بشپړ اغېز لاندې وليد، نو له افغانستان سره يې اړيکې سړې شوې.

بيا وروسته کله چې د کرزي-اوباما او هالبروک ترمنځ اړيکې خرابې شوې، کرزي په يوه هڅه کې د روسيې په لور مخه کړه او مېدوېدوف ته يې ليک واستاوه، چې وروسته يې بيا چين او روسيې ته پرله پسې سفرونه هم وکړل او ترمنځ يې اړيکې د رغېدو په لور ولاړې. په ۲۰۰۹ کال کې چې کله د شانګهای په سازمان کې د افغانستان په اړه يو ځانګړی کنفرانس راوبلل شو، روسيې افغانستان ته ټول پخواني پورونه وبښل او دواړو هېوادونو په افغانستان کې د پانګونې او پخوانيو پروژو د بشپړولو تياري وښود. په ۲۰۱۲ کال کې د چين د کمونست ګوند دويم نمبر کس افغانستان ته راغی او په همدې ۲۰۱۲ کال کې يې افغانستان ته د شانګهای سازمان د ناظر څوکۍ ورکړه.

د حامد کرزي د واکمنۍ پر مهال افغانستان د خپل ګاونډي ايران او نړيوالې ستراتيژيکې ملاتړې امريکا ترمنځ هم انډول کې پاتې راغی. له يوې خوا امريکا د افغانستان تر ټولو ستر ډونر هېواد بلل کېږي؛ خو له بلې خوا بيا د ولسمشر د دفتر لګښتونه ايران ورکول. دا هغه څه و چې د افغانستان اعتبار يې هم د امريکا پر وړاندې زيانمناوه او هم ايران سره اړيکي نه شوای عادي کېدای. دغه دواړه اړيکي د يوه منظم پلان او علمي تګلارې پر اساس نه وې، هر چا چې به افغانستان ته پيسې ورکړې هغه به په بهرني سياست کې "دوست" بلل کېده.

له بلې خوا د دې پر ځای چې په دغه لسيزه کې له ګاونډيو هېوادونو، په تېره بيا پاکستان سره اړيکې ښې شي، بالعکس د خرابېدو په لور ولاړې او وخت ناوخت به يې د يو او بل پر ضد بيانيې ورکولې؛ همدا لامل و، چې زموږ په بهرنيو چارو کې د سيمه ييزو او ګاونډيو هېوادونو ترمنځ توازن نه و.

د دې ترڅنګ د ستراتېژیک پلان نشتوالي په تېرو څو کلونو کې د افغانستان په بهرني سیاست کې ډېرې ستونزې جوړې کړې دي؛ د ملي وحدت حکومت اجرايوي رئيس هم، د بهرنيو چارو د نوي وزير د لوړې په مراسمو کې دې ټکي ته اشاره وکړه، چې افغانستان لاتراوسه د بهرني سياست کوم ستراتېژيک پلان نه لري او هيله يې څرګنده کړه، چې ژر به دا ډول يو ستراتېژيک پلان چمتو شي.

## ستراتېژيک پلان څه ته وايي؟

ستراتېژيک پلان، يعني ستراتيژي تعريفول، د ستراتيژۍ د تعقيبولو لپاره ابزارونه غوره کول او د ستراتيژۍ پالل او نافذول. په بهرني سياست کې ستراتيژي او ستراتېژيک پلان خورا اړين دی؛ ځکه کله چې پالیسي تعريف شوه، لکه "د ملي ګټو خوندي کول" نو بيا د همدغو ملي ګټو د خوندي کولو لپاره هغو لارو چارو ته اړتيا وي، چې زموږ ملي ګټې په رښتيني ډول خوندي کړي، چې د همدغو لارو چارو غوره کولو ته بيا ستراتيژي وايي. ستراتيژي د وخت او حالاتو له بدلون سره بدلون موندلی شي، ځکه خو په ستراتيژيکو پلانونو کې لنډمهالو، منځمهالو او اوږدمهالو پلانونو ته ځای ورکول کېږي.

د امريکا د بهرنيو چارو يو پخوانی وزير په خپل کتاب کې د ستراتيژيک پلان په اړه ليکي: راتلونکی ليدل، خو نه نېژدې راتلونکی، بلکې د عادي فعالينو [ديپلوماتانو] له هغه ليدلوري څخه هم وړاندې، چې تر هغه زيات وړاندې وضعيت نه شي تحليلولی، د اوسنيو پېښو راتلونکی ليدل او په دې اړه تګلاري جوړول چې په اړه يې بايد څه وشي. ترڅنګ يې دی په دې خبرې هم ټينګار کوي، چې بايد د اوسنيو پاليسيو بيا ارزونه هم وشي.[2]

[2] Dean Acheson, *Present at the Creation* (New York: W.W. Norton, 1969), p. 214.

## بهرنی چارې او ستراتیژیک پلان:

د ستراتیژیک پلان د جوړولو پرمهال باید لاندې درې ټکي په نظر کې ونیول شي:

۱- بهرنی ننګونې؛

۲- داخلي ننګونې؛

۳- او افغاني عنعنات.

بهرنیو چارو ته د هېواد له بهره ورپېښېږو ننګونو کې، د افغانستان او سیمې په کچه روانه نوې لویه لوبه کې، د نورو هېوادونو ټکرېدونکې ګټې هم شاملې دي. د بېلګې په ډول، افغانستان باید د پایپلاینایزېشن، د ورېښمو لار تېرېدنې او د ترانزیټي لارې په ورکولو کې د خپل هېواد ګټې خوندي کړي او په دغو برخو کې د نورو هېوادونو د ټکرېدونکو ګټو ډګر هم نه شي. د دې ترڅنګ افغانستان باید هڅه وکړي، چې د خپلې خبرې وزن زیات کړي او په نورو یې ومني.

همدا راز د بهرنیو چارو داخلي ننګونې بې ثباتي، د سولې او له وسله والو مخالفینو سره د خبرو اترو نه شتون، اداري فساد او نور دي. دا چې دغه لاملونه مو د بهرنیو چارو داخلي ننګونې وبللې، له دې کبله ده، چې په افغانستان کې د نورو هېوادونو پانګونې هم د هېواد د ملي ګټو یوه برخه ده. کله چې افغانستان د دې جوګه نه وي چې خپلې طبیعي زېرمې راوسپړي او پروژې پلې کړای شي؛ نو بیا دلته د بهرنیانو پانګونو ته اړتیا ده او بهرنیان بیا خپلې پانګونې په ثبات، د فساد له نشتون او روښانه راتلونکي پورې تړلې بولي.

د دې ترڅنګ په ستراتیژیک پلان کې باید افغاني عنعنات هم په پام کې ونیول شي، په تېره بیا پخوانۍ تګلارې چې د عنعنو له مخې جوړې شوې وې او د افغانستان پر بهرنیو چارو یې اغېزې لرلې دي؛ چې د مثال په ډول د بې طرفۍ یادونه کولی شو. دا چې اوسنۍ نړۍ نه دوه قطبه ده او نه هم یو قطبه، بلکې د ډېر-قطبه نظام په لور روانه ده او له همدې امله باید افغانستان یوازې له یوه لوري سره ځان په بشپړ ډول ونه تړي.

افغانستان په اوسني وخت کې هم د غرب مرستو او ډیپلوماتیک ملاتړ او هم د چین پانګونو ته اړتیا لري. افغانستان همدا راز د روسیې پاملرنې ته، چې د نړۍ په سیاست کې یې بیا خپل ځای موندلی دی، او هم د هند های-ټېک صنعت او اقتصادي مرستو ته اړتیا لري، البته په دې ټولو حالاتو کې باید خپل ملي حاکمیت او ناپېیلتوب هم له نظره ونه غورځول شي.

د ستراتېژيک پلان لپاره څه چې مهم دي، هغه د بهرنيو چارو په لويو قضاياوو کې په پټو سترګو پرېکړې نه کول دي. د بېلګې په ډول له امريکا سره امنيتي تړون د اقتصادي مرستو په تمه او له بې ثباتۍ څخه د هېواد د ژغورنې په تمه په پټو سترګو لاسليک شو؛ مګر تېرو څو مياشتو وښوده، چې نه يوازې دا چې دا اهداف به ترلاسه نه شي، بلکې افغانستان به د نړيوالو د راتلونکو لوبو ډګر هم وګرځي.

د ملي وحدت حکومت امريکايي سرتېرو ته د اوږده مهال پاتې کېدو سند ورکړ او د خپل ملي حاکميت د نقض ترڅنګ يې خپلو وسله والو مخالفينو ته د جګړې جواز هم په لاس ورکړ؛ خو د امريکا دفاع وزارت ته د نوماند اشټن کارټر څرګندونې[3] بيا زموږ د بهرنيو چارو دغه پرېکړه په اوبو لاهو کوي، چې وايي: که په افغانستان کې وضعيت خراب شي نو خپل سرتېري به وباسي. د امنيتي تړون د لاسليک پرېکړه که له يوې خوا د سولې پر وړاندې د خنډونو لامل شوه، له بلې خوا د سيمې د هېوادونو اندېښنې هم له ځان سره لري.[4]

## وړانديزونه:

- د افغانستان ستراتيژيک پلان بايد لنډمهاله، منځمهاله او اوږدمهاله ستراتيژي ولري، ترڅو له يوې خوا موږ خپله ډيپلوماسي د ثبات په لور بوځو او له بلې خوا وکړای شو، چې په هر پړاو کې خپلې ګټې خوندي کړو.
- د بهرنيو چارو ستراتيژيک پلان بايد د داخلي او بهرنيو ننګونو او هېواد ته د ورپېښو امنيتي اندېښنو او ګواښونو په رڼا کې جوړ شي.
- د بهرنيو چارو په ستراتيژيک پلان کې بايد دې ته هم ځای ورکړل شي، چې افغان ديپلوماتان له يوې رقابتي ازموينې وروسته غوره کړای شي او په پلان کې د دغې ازموينې پر ډول او څرنګوالي هم رڼا واچول شي.

---

[3] اشټن کارټر د سنا د پوځي خدماتو د کمېټې د يوې پوښتنې په ځواب کې وويل: که هلته وضعيت خراب شي؛ د خپلو ځواکونو د ايستلو پر پلان به له سره غور وکړو! وګورئ د ويسا ورځپاڼې د ۲۰۱۵ کال د فبرورۍ ۴مه نېټه (لومړی مخ)

[4] امريکا اعلان کړی، چې خپل نظامي تجهيزات به اوکراين ته ورکړي؛ روسيې بيا د دغه اعلان پرخلاف تود غبرګون ښودلی. روسيه او چين دواړه د امريکايانو له شتون څخه اندېښنې لري او دلته د امريکايانو شتون ته د شک په سترګه ګوري، له همدې امله دوی وخت ناوخت د تروريزم او مخدره موادو پر ضد د دوی هلې ځلې ناکامې بولي.

- د دغه پلان له مخې باید د یوه عادي ډیپلومات پوهه او وړتیا د پخوا په نسبت څو چنده زیاته وي.
- افغان پالیسي جوړوونکي باید د پاکستان او هند رقابت هم له پامه ونه غورځوي او په افغانستان کې د دواړو هېوادونو ارزښت هم درک کړي. دا پالیسي باید داسې ترتیب شي، چې دا دواړه هېوادونه په افغانستان کې د رقابت او نیابتي جګړې پرځای له یو بل سره همغږي کړي.[5]
- د نړۍ له نورو هېوادونو په تېره بیا له ګاونډیو هېوادونو سره اقتصادي ډیپلوماسي زیاته او پیاوړې شي.

پای

---


**ارتباط با ما:**

ایمیل:info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارهٔ تماس: 784089590 (93+)


---

[5] په افغانستان کې د هند او پاکستان د ملګریتوب ډګرونه ډېر کېدلای شي، دا چې د دوی ترمنځ د ملګرتوب کوم ډګرونه مشخص شي، نو د مطالعې لپاره ولولئ:

Sadika Hameed, Prospects for Indian-Pakistani Cooperation in Afghanistan, CSIS, 2012. See it online in the following link:

< http://csis.org/files/publication/120821_Hameed_ProspectsIndianPakistan_Web.pdf>